AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۲۰

# له نجلۍ سفر

له لور توبه تر مور کېدو سفر...
له بې فکرۍ تر فکره سفر...
له ژړا تر غلي کولو سفر...
مخکې به چې خپله د چا د تیکري تر شا پټېده؛ اوس خپل تیکري کې نور پټوي .
مخکې به یې چې ګوته وسوځېده؛ ټول کور به یې په سر اخیسته، نن د ټول لاس له سوځېدو وروسته هم ډوډۍ پخوي .
وړاندې به چې وړو وړو خبرو باندې ژړېده، نن هغه نازکه لویې لویې خبرې ذهن کې پټوي.
وړاندې به چې ورونو، خویندو او سهیلیو سره جنګېدله؛ نن هغوی سره د څو خبرو له پاره مري.
مخکې به یې چې ټول کور کې د (مور، مور) غږونو انګازې کولې؛ نن د مور له نوم اورېدو سره نرمه موسکا وکړي .
مخکې به یې چې ۱۰ بجې ویښېدو نه هم وختي ویښېدل ویل؛ اوس له ملا اذان سره سم پاڅېدو ته هم ناوخته پاڅېدل وایي .
وړاندې به یې چې ټول کال د خپلو شوقونو پوره کولو باندې تېرېده؛ اوس د یو جوړ جامو اخیستلو شوق نه لري.
وړاندې به یې چې سراسر ورځ کار نه کاوه او بیا به یې هم ځان مصروف باله؛ اوس ټوله ورځ کار کوي؛ خو سره له دې بې کاره ورته ویل کیږي.
مخکې به یې چې د یوې ازموینې له پاره ټول کال درس وایه؛ اوس هره ورځ له تیاري پرته څو ازموینې ورکوي.
معلومه نه ده چې څه وخت له هغې (لور) نه مور جوړه شوه .
معلومه نه ده چې څه وخت هغه (لور) د مور په سفر ور ګډه شوه.
هیڅ معلومه نه ده!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ